PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

۱۰۷۹

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۷۹ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۵۴ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د چنگاښ ۱۵ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شعبان المعظم ۵ مه د ۲۰۱۱ د جولای ۶ مه

کانادا؛ اولین کشوری که خارج می شود

کانادا پس از ۹ سال جنگ، ۱۵۷ کشته و بیش از ۱۱ میلیارد یورو هزینه سرانجام ماموریت جنگی خود را در افغانستان این هفته پایان می دهد. کانادا اولین کشور بزرگ است که نیروهایش را امسال از افغانستان بیرون می کشد.

با کاهش محبوبیت جنگ افغانستان در کانادا، نزدیک به ۳ هزار نیروی کانادایی که عمدتا در منطقه خطرناک قندهار مستقر می باشند، بازگشت خود را

ص۳

د ولسي جرګې د استازو پرونۍ ناندرۍ، د سیاسي لوبو نوې پړاو

په ولسي جرګه کې د کابل استازې جنرال نظیفې ذکي د جرګې په پرونۍ عمومي غونډه کې په جرګه کې د کوچیانو استازې حمیده احمدزۍ وډبوله.

د یادو کسانو ترمنځ وروسته تر هغه شخړه رامنځ ته شوه، چې په دغې جرګې کې یو شمېر غړو نیوکه کوله، چې ولسمشر د جرګې مصوبې نه پلي کوي.

د یادو غړو په غبرګون کې د ننګرهار استازې اړین یون وویل، چې د هرې خبرې پړه باید یوازې پر ولسمشر کرزي وانه چول شي، ځکه چې دواړه مرستیالان یې مارشال محمد قسیم فهیم او کریم خلیلي هم ورسره پړه دي.

د دې په وینا، مارشال هغه چاته ویل کېږي، چې دوه یا درې هېوادونه یې فتح کړي وي؛ خو مارشال فهیم دومره نه شي کولای، چې افغانستان د پاکستان له بریدونو څخه وژغوري.

له تېرې شاوخوا یوې میاشتې راهیسې د پاکستانیو ځواکونو له خوا د افغانستان پر کونړ، خوست، پکتیا او ننګرهار ولایتونو د توغول شویو څه د پاسه ۷۰۰ توغندیو له امله، ۵۰ تنه وژل شوي او په لسګونو نور ټپیان شوي دي.

یون له خلیلي څخه غوښتنه وکړه، لکه څرنګه یې چې په میدان وردګو کې د هزاره قوم په ملاتړ خپمه وهلې وه او غوښتل یې، چې د کوچیانو پر وړاندې له هزاره ګانو ملاتړ وکړي، همدغه شان دې لارې شي او د سرحدي ولایتونو اوسېدونکي

۳مخ

کامدیش د وسلوالو او دولتي ځواکونو د جګړو تود ډګر

په ختیځو ولایتونو کې د سرحدي پولیسو قوماندان وایي، چې لسګونه وسلوال طالبان له ډیورنډ کرښې را اوښتي او د نورستان د کامدېش د ولسوالۍ پر امنیتي پوستو یې بریدونه کړي دي. په ختیځ کې د لومړي زون سرحدي پولیسو قوماندان مل پاسوال امین الله امرخېل پرون رسنیو ته وویل، لسګونو وسلوالو مخالفینو، چې ډېرې یې پاکستانیان وو، له ډیورنډ کرښې په را اوښتو یې د کامدیش ولسوالۍ پر سرحدي پوستو پراخ بریدونه پیل کړل. هغه زیاته کړه، چې جګړه د شپې په یوه بجه پیل او د سهار په نهو بجو پای ته ورسېده. د امرخېل په وینا، په دې جګړه کې د ۱۲ پاکستاني طالبانو مړي په سیمه کې پاتې دي، یو پولیس وژل شوی او درې نور ټپیان دي. نومورې وویل، چې اوس جګړه د بدلې او وسلوال مخالفین تښتېدلي دي. امرخېل د طالب ویاند هغه دعوه رد کړه، چې ګوندې ۴ امنیتي پوستې یې نیولې دي. دی وایي، چې وسلوالو مخالفینو د تښتې پر مهال په سیمه کې څو کورونو ته اور اچولی دی. بل پلو طالب ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته وویل، چې د ګوردیش په جګړه کې یې درې ملګري وژل شوي او ۷ ټپیان دي. مجاهد



ادعا وکړه، چې د ۴ پوستو په نیولو یې ۱۲ سرحدي پولیسو ته مرګ ژوبله اړولې ده. طالب ویاند ومنله، چې په سیمه کې جګړه پای ته رسېدلې او ملګري یې له سیمې وتلي دي. د یادونې ده، چې تېره میاشت د دواب د ولسوالۍ تر جګړې وروسته دغه لومړی ځل دی، چې وسلوال مخالفین د نورستان پر یوې سیمې پراخه برید ترسره کوي.

سفر دیوید کامرون به افغانستان در سایهٔ کشته شدن نظامی بریتانیایی

صدراعظم بریتانیا در افغانستان به سر می برد؛ ورود این مقام بلندپایهٔ بریتانیایی در حالی به افغانستان صورت می گیرد که روز گذشته جسد یک سرباز مفقود شدهٔ انگریزی در هلمند نیز، به دست آمد. شبکهٔ تلویزیونی بی. بی. سی بریتانیای نیز دیروز با پخش مستقیم نشست مطبوعاتی مشترک حامد کرزی رییس جمهور افغانستان و 'دیوید کامرون' صدراعظم بریتانیا در کابل اعلام کرد، این سفر کامرون به افغانستان تحت الشعاع کشته شدن نظامی بریتانیایی در این کشور قرار گرفته است. گفتنی است، از زمان حضور نیروهای بریتانیا همراه امریکا در سال ۲۰۰۱

ص۳



سفیر افغانستان با معاون وزیر خارجهٔ پاکستان چه گفت؟

سفیر افغانستان مقیم اسلام آباد با معاون وزیر خارجهٔ پاکستان ملاقات کرد. به گزارش رادیو آزادی، افغانستان و پاکستان موافقه کردند که برای حل مشکلی که در سرحدات دو کشور ایجاد شده است، مقام های قوای منطقه یی دو کشور با هم تماس بر قرار نمایند و برای جنجال ایجاد شده راه حل پیدا کنند.

سفیر افغانستان در پاکستان می گوید: در مورد کشمکش های اخیر، در سرحدات افغانستان و پاکستان، با معاون وزیر خارجهٔ پاکستان سلمان بشیر صحبت کرد. این در حالی است که حملات توپخانه یی قوای پاکستان بر مناطق شرقی همچنان ادامه دارد، اما در این ملاقات در این مورد چیزی نگفته است.

د ایساف څلور سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړیوالو ایساف ځواکونو د افغانستان په ختیځ کې د خپلو څلورو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

د ناټو د خبرپاڼې له مخې، درې سرتېري یې پرون د افغانستان ختیځ ته په ماین چاودنه او ځلورم یې د مخالفینو په یوه برید کې وژل شوی دی.

ایساف د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی، خو باید وویل شي، چې په ختیځ کې د ایساف امریکایي سرتېري مېشت دي.

د پژواک د خبر پر بنسټ، د روان زېږدیز کال له پیله راهیسې په هېواد کې ۲۸۸ بهرني سرتېري وژل شوي، چې یوازې ۲۰۷ یې امریکایي دي.



پاکستان کار هندی ها را به خون می نشاند ۲

دلوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

مداخلات همسایه گان چالشی برای ناامنی در افغانستان

یکی از چالش های عمده در ایجاد ناامنی و بی ثباتی در افغانستان که وضعیت امنیتی را در این کشور بی ثبات و نا پایدار ساخته، همانا مداخلات مغرضانه و دست اندازی های فتنه گرانهٔ کشورهای همسایه می باشد. مداخلات همسایه گان در امور داخلی افغانستان نه تنها باعث به وجود آمدن بدامنی و ناآرامی در این سرزمین گردیده، بلکه در ساحات مختلف حیات سیاسی، اقتصادی و اجتماعی نیز، اثرات ناگوار خود را برجا گذاشته است که ما همه روزه نه تنها شاهد ناامنی در گوشه و کنار کشور خود هستیم، بلکه وضعیت اقتصادی نیز، بحران زا گردیده که تاثیر مستقیم بر وضعیت اجتماعی ساکنان این کشور، گذاشته است.

افغانستان بارها به خاطر رفع این معضل با کشورهای همسایه در تفاهم بوده و خواسته است، تا از طریق مذاکرات دیپلوماتیک، راه حلی برای این مشکل جستجو نماید؛ از جانب دیگر، جامعهٔ جهانی نیز، خواهان آن است، تا برای ایجاد فضای صلح و مبدل شدن افغانستان به یک کشور عاری از جنگ و خشونت، در سطح ملی و بین المللی تلاش هایی را بخرچ داده و برنامه هایی را طرح ریزی می نماید.

یکی از این برنامه ها، امضای یک معاهده برای ایجاد افغانستان به حیث کشور بیطرف است.

اخیراً روزنامهٔ فایننشل تایمز در ارتباط به این طرح می نویسد که مقام های امریکایی گفته اند: "واشنگتن برای امضای یک معاهدهٔ منطقه یی تلاش های دیپلوماتیک می نماید که در نتیجهٔ آن کشورهای منطقه تعهد خواهند نمود که در رقابت های ذات البینی خود از افغانستان به حیث میدان جنگ استفاده نخواهند کرد". در حالی که حکومت افغانستان و وزارت دفاع این کشور با ابراز نظریات خوشبینانه پیرامون این طرح، نظریهٔ مقام های امریکایی را در مورد تبدیل شدن افغانستان به یک زون بیطرف استقبال می کنند، اضافه می نمایند که آوردن صلح در افغانستان بدون همکاری کشورهای منطقه ناممکن خواهد بود. زیرا این کشورها در بحران افغانستان نقش دارند.

بادرنظرداشت رقابت های تاریخی بین هند و پاکستان حتا افغانستان هم اگر به حیث یک کشور بیطرف اعلان گردد، باز هم اعتماد به صداقت پاکستان نسبت به این تعهد بعید به نظر می رسد.

حمایت پاکستان از طالبان پاکستانی و گروه های افراطی دلالت بر این می نماید که پاکستان نمی خواهد، در افغانستان صلح و ثبات برقرار گردد. زیرا نظامیان پاکستان و دستگاه های استخباراتی آن بقای خویش را در ناآرامی افغانستان و شعله ور ساختن آتش جنگ در این کشور می بینند.

اگر جامعهٔ جهانی واقعاً خواهان ایجاد یک افغانستان با امن اند که قوای خارجی در مجموع و شهروندان افغان در اخص از حملات انسان ستیزانهٔ همسایه گان در امان باشند، باید در سطح بین المللی از همسایه گان افغانستان تعهد گرفته شود که بعد از امضای این تعهدنامه به هیچ گونه مداخله یی در این کشور دست نمی یازند و سبب ناآرامی و بدامنی در این کشور نمی گردند.

پاکستان کار هندی ها را به خون می نشاند

نوشته: نورانی

افغانستان از کشورهایی است که از نظر جیو استراتژیک در مهمترین منطقهٔ آسیا قرار دارد و در اطراف آن، کشورهایی موقعیت دارند که هر یک مدعی رسیدن به امکانات و سودهای خاصی در افغانستان و مشخصاً در این قاره می باشند. بنا بر این، کشورهای همجوار نمی توانند، در تمام مسایل هم نظر و همگام برخورد و حرکت نمایند و یکی به دنبال تلف کردن حق دیگری نباشد.

در این میان دو کشور هند و پاکستان، از زمان جدایی تا حال در جدال و رویارویی های خونینی در برابر هم قرار دارند. اما بیشتر مردم جهان به این باور اند که پاکستان از کشور هایی است که توسط قدرت های بزرگ مخصوصاً انگلیس ها بعد از جنگ دوم در ۱۹۴۷ چون اسراییل به خاطر ناآرامی و بحران آفرینی این منطقه به وجود آمد. در حالی که هندوستان کشوری است که همیشه تلاش داشته، تا با صلح، صفا و همزیستی با کشورهای دیگر جهان زیست نماید، و به این خاطر، تا زمانی هندوستان را مجبور نکرده اند، دست به مقابله و رویارویی نزده است.

بعد از جدایی هند و پاکستان، پاکستان ادعای ارضی بر کشمیر هند را نمود و همیشه با تحرکات و مداخلات خواست، تا سرزمین هند و مردم آن کشور را در ناآرامی و جدل نگه دارد و بالاخره هند را به زانو در بیاورد و این نقطهٔ بسیار مهم و اثر گذار به اقتصاد هند که بخش اعظم آب های هند از آنجا سرچشمه می گیرد را از آن کشور جدا و ضمیمهٔ خاک خود نماید و نام کشمیر بخش خود را ظاهراً آزاد کشمیر گذاشت، تا کشمیری های هند را بفریبد و با این تمسک، آنها را علیه دولت های شان برانگیزد.

سه بار درگیری پاکستان با هند که هر سه بار پاکستان هند را به چنین رویارویی کشاند، هند مجبور شد، تا جواب دندان شکنی به پاکستان بدهد و در جنگ ۱۹۷۲، بخشی از خاک پاکستان که به ایالت بنگال مشهور بود و به پاکستان غربی شهرت داشت، از خاک پاکستان جدا شد و به کشور مستقلی به نام بنگله دیش مشهور گردد. این جدایی پاکستان را بیشتر تضعیف کرد و بالاخره رقابت های دو کشور باعث شد که در ۱۹۹۹ هر دو کشور به سلاح ذره وی دسترسی پیدا کنند و به این ترتیب، از رویارویی یکی مقابل دیگری تا حدی بکاهد.رژیم پاکستان که فقط استراتیژی مداخله در خاک هند و افغانستان را به عنوان سیاست محوری خود تعیین کرده بود، بر اردو و ۸ شبکهٔ استخباراتی که مهمترین آی. ایس. آی بود، اتکا کرده و این مداخله گاهی توقف پیدا نکرد. در این مدت، عموماً بریتانیایی ها و بعد امریکاییان از پاکستان حمایت می کردند و پاکستان یکی از متحدان بسیار نزدیک امریکا در منطقه به حساب آمد.

پاکستان از روز اول ایجاد تا حال باور به سیاست بحران آفرینی در این منطقه دارد و با این سیاست می خواهد که راه را برای مدیریت این بحران برای خود و متحدان غربی خود هموار سازد. این سیاست در زمان حضور شوروی ها در افغانستان و قیام مردم علیه آنها نتایج خوبی برایش به بار آورد و در این مدت قادر شد که اسلامگرایان بسیاری چون لشکر طیبه، جیش محمد، سپاه صحابه، حزب المجاهدین، حزب انصار و غیره را بسازد و از این جنگ سودها و امکانات بسیاری را برباید و از سوی دیگر هندوستان را با این جریانات سیاسی و کنترول شده زیر فشار قرار دهد. به این خاطر، باری یک حمله بر پارلمان هند را سازماندهی کرد که قبل از حمله افشا و سرکوب شد، اما حملهٔ دوم بر هوتل تاج محل در بمبیی سازماندهی گشت که بیش از ۱۹۰ تن به قتل رسیدند و بعد روشن شد که این حمله به وسیلهٔ افراد سپاه صحابه که زیر حمایت مستقیم پاکستان قرارداشت و نزدیک بود بار دیگر میان دو کشور تشنج ایجاد شود، سازماندهی شده بود.

حاکمیت هندوستان که کمتر بر نظامیان و استخبارات استوار نیست، تا حال دیده نشده که به دنبال جدل و بحران آفرینی باشد و به این خاطر، همیشه از سوی پاکستان امنیت هند مورد تهدید قرار گرفته، تا اینکه از سوی هند امنیت پاکستان مورد تهدید قرار گیرد، با اینکه قدرت اتومی و غیر اتومی هند، دونیم برابر پاکستان می باشد و در تمام رویارویی ها هندی ها، پاکستانی ها را شکست داده اند. اما این جدل زمانی تیزتر شد که بعد از ۱۱ سپتمبر نیروهای امریکایی وارد خاک افغانستان شدند و یکباره کشورهای بسیاری در افغانستان راه پیدا کردند. هندوستان یکی از کشورهایی بود که با دولت سیکولرش تلاش کرد، تا به افغانستان در زمینهٔ بازسازی کمک کند و به این خاطر، ده ها پروژه را زیر نظر گرفت و حدود دو میلیارد دالر به افغانستان کمک کرد. کار هندوستان در زمینهٔ ساختن مکتب لیسهٔ حبیبیه، بند سلما، سرک زرنج - دلارام، تصمیم برای اعمار بند بخش آباد بر فراه رود و ساختن ده ها منطقه و پروژهٔ دیگر مردم را تا حدی به این باور رساند که هندوستان خود را برای کار در افغانستان تا حدی آماده ساخته است. اما پاکستان در این مدت تلاش کرد، تا جلو این کارهای هند را در افغانستان بگیرد. حمله های متواتر بر سفارت هند در کابل، حمله بر مهمانخانهٔ هندی ها در شهرنو، حمله بر جادهٔ دلارام- زرنج که در چند مورد ۱۲ انجنیر هندی جان دادند، حمله بر کارکنان هندی در بند سلما و غیره نشان می دهد که پاکستان به هر طریقی شده، از کار هندی ها در افغانستان جلوگیری کنند و این برای شان مطرح نیست که این چقدر به ضرر مردم افغانستان است؛ چون پاکستانی ها همیشه به ویرانی افغانستان فکر نموده و باری که جادهٔ جلال آباد - تورخم را می ساخت، در عوض تصمیم داشت، تا درختان به ثمر رسیده و سایه دار کنار این جاده که مردم سال ها در حفظ آنها تلاش کرده و خون جگر خورده را از بین ببرند که بعد از آن ممانعت شد.

پاکستانی ها می خواهند، تا افغانستان را به محل کالا و بازار تولیدات پاکستانی مبدل سازند و سودی که امروز از افغانستان در حدود ۵ میلیارد دالر می گیرند را به ۱۵ میلیارد دالر برسانند و این ممکن نیست، تا تمام زیربناهای تولیدی و سودآوری افغانستان را نابود نسازند که بعد خود به این سودهای کلان دست یابند. با تمام تبلیغاتی که پاکستانی ها در مورد مداخلات هند از طریق قندهار در بلوچستان پاکستان می کنند، نزد مردم چندان جدی نبوده، این را بیشتر تمسکی می دانند که پاکستان می خواهد، از آن برای مخالفت و زیر فشار قرار دادن دولت کابل سود ببرد. در حالی که تا حال نشانه یی مبنی بر دست درازی هندی ها در بلوچستان پاکستان به نظر نمی رسد.

منموهن سینگ ص۳

کانادا؛ اولین کشوری که ...

پیش تر آغاز کرده و به زودی کاملا به کشور خود باز می گردند.

به گزارش شبکهٔ اطلاع رسانی، در روزها و هفته های اخیر، آنها پیش از بازگشت به کانادا آخرین گزمه ها و گشتزنی های خود را انجام دادند، وسایل پایگاه های خود را جمع کردند و در میدان هوایی نظامی قندهار با یکدیگر دیدار کردند.

جنگ نیروهای کانادایی که در سال ۲۰۰۲، چند ماه پس از حمله نیروهای تحت رهبری امریکا آغاز شد، فردا روز پنجشنبه رسما به پایان می رسد.

ماه گذشته، بارک اوباما، رییس جمهور امریکا اعلام کرد که ۳۳ هزار نیروی تقویتی این کشور را تا پایان تابستان ۲۰۱۲ از افغانستان خارج می کند. این در حالی است که فرانسه، بلجیم و بریتانیا هم گفته اند که نیروهای شان را به زودی به خانه بر می گردانند.

در حالی که بسیاری از سربازان کانادایی خوشنود هستند که به خانه و خانوادهٔ خود باز می گردند، قوماندانان آنها اصرار می ورزند که این افراد تا آخر بر مسوولیت خود تمرکز کنند.

دگروال ریچارد گیگور، معاون فرماندهی گروه عملیاتی می گوید تا هنوز جنگ و مشکلات افغانستان به پایان نرسیده است.

کانادا کنترول میدان جنگی قندهار را به نیروهای امریکایی واگذار می کند. نیروهای کانادایی اذعان می کنند که آنها پیشرفت چشمگیری را در طول حضور خود در ولایت قندهار سبب شده اند. قندهار زادگاه طالبان و یکی از مناطق خطرناک افغانستان می باشد.

استیفان هارپر، صدراعظم کانادا در سال ۲۰۰۸ گفته بود که نیروهای کانادایی امسال از افغانستان خارج می شوند. در همین حال، براساس اطلاعات خبرگزاری آسوشیتدپرس، حمایت مردم کانادا از جنگ در افغانستان به طور چشمگیری کاهش یافته است. بر اساس یک نظرسنجی که توسط موسسهٔ VCAR اجرا شد، ۶۳ درصد از کانادایی ها مخالف جنگ در افغانستان می باشند. این تعداد در سال ۲۰۱۰ شامل ۴۷ درصد مردم می شد.

کانادا اولین کشور بزرگ است که نیروهای جنگی اش را امسال از افغانستان خارج می کند. پیش از این، هالند سال گذشته ماموریت نظامی خود را در افغانستان پایان داد. اما جدا از این، ۹۵۰ مربی کانادایی به نیروهای امنیتی افغان در کابل آموزش می دهند، تا آنها برای دفاع از کشور شان آماده شوند.

هرچند که هنوز سوالاتی دربارهٔ ظرفیت و توانایی نیروهای افغان وجود دارد.

کانادا همچنان به کمک های ملکی خود به افغانستان ادامه می دهد که انتظار می رود این کمک ها سالانه حدود ۷۰۰ میلیون یورو باشد.

سفر دیوید کامرون به افغانستان...

میلادی به افغانستان و با کشف جسد یکی از سربازان بریتانیایی پریروز تلفات این کشور به ۳۷۵ تن در جنگ افغانستان رسیده است.

به گزارش رسانه ها، در این نشست کامرون در پاسخ به پرسش خبرنگاری که سوال کرد، دیروز شما شاهد عملیات جستجو پیدا شدن جسد یک نظامی بریتانیای بودید، آیا زمان را برای خروج نظامی از افغانستان مناسب می دانید، گفت که وی قرار است، روز آینده برنامهٔ روند خروج نظامیان از این کشور را در مجلس عوام اعلام کند.

وی در ادامه افزود: بریتانیا با ۹ هزار و ۵۰۰ نظامی بزرگترین حضور نظامی پس از امریکا را در خاک افغانستان دارد و درچارچوب برنامهٔ زمانبدی خروج نظامیان بریتانیایی، آغاز خواهد شد.

صدراعظم بریتانیا در این کنفرانس خبر مدعی شد که بریتانیا ارتش و نیروهای پلیس افغانستان را آموزش داد و پیشرفت های خوبی نیز در زمینهٔ امنیت در ولایت هلمند، که روز گذشته وی قادر نشد، به لشکرگاه مرکز آن برود، موفقیت های خوبی بدست آورده است.

وی در همین حال مدعی شد که چنانکه افغانستان را به یکباره فراموش کنیم، آنگاه، اوضاع در مبارزه با تروریزم، قاچاق مواد مخدر و نیز، موضوع مهاجرت بدتر خواهد شد و چنین مشکلاتی به پشت در خانه های ما باز خواهد گشت؛ چرا که پیشتر نیز، چنین تجربه یی کسب کرده ایم.

رییس جمهور کرزی نیز، در پاسخ به کاهش تعداد نظامیان امریکایی در کشورش گفت: حمایت و مسوولیت از تمامیت ارضی افغانستان، حق مردم این کشور است.

وی با متفاوت دانستن وضعیت افغانستان نسبت به سال ۲۰۰۱ میلادی، زمان حضور نظامی امریکا و متحدان غربی در خاک این کشور، گفت، افغانستان می بایست در زمینهٔ امنیت، فضای دموکراتیک، خود عهده دار مسوولیت شود. بنابراین، کاهش نیروها و انتقال قدرت به مقام های افغان می بایست انجام پذیرد.

رییس جمهور با این حال افزود: این به معنای پایان فوری کمک ها به افغانستان نیست، اما با افزایش عهده دار شدن مسوولیت ها، این امر به سود ما و کشورهای درگیر در جنگ افغانستان خواهد بود.

کرزی در پاسخی به پرسشی در زمینهٔ واکنش به حملات توپخانه یی و راکتی پاکستان به داخل مرزهای افغانستان که از یک ماه پیش آغاز شده است، گفت، ما خواهان درگیری نیستیم و در این زمینه از نزدیک با دوستان پاکستانی خود در ارتباط هستیم.

رییس جمهور کرزی در ادامه گفت: این موضوع در نشست تهران با طرف پاکستانی مطرح و ابراز نگرانی ما در این زمینه منتقل شد.

وی افزود: چنانکه خواسته باشیم به اقدام پاکستان پاسخ دهیم، آنگاه ناامنی در مرزها به وجود خواهد آمد و افراد بیگناه غیر نظامی و خانواده هایی که در نزدیک سرحدات مشترک دو کشور به سر می برند، لطمه خواهند دید.

گفتنی است، صدراعظم بریتانیا پریروز در دیداری از پیش اعلام نشده برای انجام سفری دو روزه وارد افغانستان شد.

وی روز گذشته به دلیل کشته شدن یک نظامی بریتانیایی و عملیات جستجو برای یافتن جسد این نظامی سفر خود به 'لشگرگاه' مرکز ولایت هلمند را از بیم جان و مشکلات امنیتی لغو کرد.

پاکستان کار هندی ها را به...

صدراعظم هند در سفر اخیرش به کابل، حرف جالبی بر زبان خود آورد و آن اینکه افغان ها باید به اسقلال خود بیاندیشند و به کسی اجازه ندهند، تا این استقلال را نقض کنند، اینکه هدف سینگ از این اشاره چه بود، به هر حال هرچه بوده باشد، تاکید به جا و خوب و شرافتمندانه یی بود. در حالی که پاکستان گاهی همچو اشاراتی در افغانستان نداشته، در بسیاری حالات به عنوان جادهٔ صاف کن خارجی ها در افغانستان عمل کرده است.

با اینکه هندی ها در راه رسیدن به افغانستان، مشکلات بسیاری دارند، اما تلاش مستقلانهٔ آن کشور به خاطر بهبود وضعیت زنده گی مردم افغانستان نسبت به خاک و خون کشیدن پاکستان، تفاوت های بسیاری دارد. کارهایی که هندی ها تا حال در افغانستان انجام داده اند، کارهای ریشه یی و پُخته بوده، کلوخ ماندن و زود گذر نبوده است؛ چیزی که در درازمدت می تواند، به نفع مردم افغانستان تمام شود. در حالی که از سوی پاکستان بنجل های بی ارزش وارد بازارهای افغانستان شده، در کنار آن انتحاری وارد کشور ما کرده است.

دولت هندوستان با تاکید بر سیکولریزم کمک به افغانستان با کمک های بسیاری از کشورهای جهان به شدت متفاوت است و به این خاطر نه تنها نسبت به هندوستان در افغانستان بدبینی وجود ندارد که امروز هزاران افغان برای تداوی، سیاحت، تحصیل و استراحت به هندوستان می روند و از رفتن به پاکستان و برخوردها و تحقیرهای پولیس و سرحد داری پاکستان سخت نفرت دارند. با این مقایسهٔ کوتاه می توان ارزیابی کرد که تضاد میان این دو کشور در افغانستان پیچ و گره خورده و اما یکی (هندوستان) در پی بهبود ساختارهای اقتصادی و دیگری برای خون ریزی (پاکستان) و ویرانی افغانستان کمر بسته، هیچ حرکت به ظاهر خوب آن نیز، بدون چال و شگرد بوده نمی تواند.

لذا افغان ها به دوستی های هندوستان باورمند و دشمنی های پاکستان را از زمان ایجاد تا حال صدها بار تجربه کرده اند و مخصوصاً که اینک ولسوالی های سرحدی را مورد حمله قرار می دهد و صد ها مردم مظلوم افغان بی خانمان و یا به قتل می رساند.

د ولسي جرګې د استازو ...

دې له پاکستانیانو څخه وژغوري. د پژواک د خبر له مخې، دې خلیل ته په خطاب کې وویل: ((خلیلي صاحب کونړ ته لاړ شه! هلته خپمه ووهه او افغانان د پاکستانیانو له بمبار څخه وژغوره!)) دیون د خبرو په غبرګون کې د کنډز استازي عبدالودود پیمان وویل، چې د مارشال فهیم نوم باید وانه خیستل شي، ځکه چې ټوله ملامتي دولسمشر ده. وروسته په جرګه کې د کندهار استازي عبدالرحیم ایوبي هم د کرزي ملاتړ وکړ، چې ورسره یو شمېر وکیلانو د مېزونو په ډبولو لاس پورې کړ او اداري پلاوي په ایوبي مایک بند کړ. تر دې وروسته خپله ایوبي، د هلمند استازې نسیمه نیازي، د ننګرهار استازې ارین یون او د بغلان استازې شکریه عیسي خپل مېزونه ډبول او چاته یې د خبرو وار نه ورکاوه. په دې منځ کې جنرال نظیفي ذکي د مارشال فهیم په پلوی او حمیدې احمدزی د کرزي په پلوی له لوړ اواز خبرې کولې او دیادو دواړو وکیلانو ترمنځ خبرې دې برید ته ورسېدې، چې ذکي پر احمدزی د بوټ ګوزار وکړ. وروسته ذکي، حمیده احمدزی د مېز پرمخ چپه کړه او په سوکونو یې ووهله.

دغه شخړه د جرګې د نورو غړو په لاسوهنې سره پای ته ورسېده. د ولسي جرګې لومړي مرستیال خالد پښتون، چې پرونې غونده یې تر مشرۍ لاندې جوړه شوې وه، د شخړې په پای ته رسېدو سره یې غونده هم پای ته ورسوله. خو د جرګې ځینې غړي بیا هم یو له بل سره پر ناندریو بوخت وو، تر هغه چې امنیتي موظفینو مداخله وکړه او د لفظي شخړو مخه یې ونیوه. خو حمیدې احمدزی له تالار څخه بهر پژواک خبري اژانس ته وویل، چې دې هم خپل غچ اخیستی او ذکي بوټ یې له ځان سره راوړی دی. هغې وویل: ((بوټ یې له ځان سره وړم، پر پرده چې کور ته لوڅې پښې لاړه شي، دامې په غنیمت کې نیولی دی.)) دیادونې وړ ده، چې تېر کال هم په ولسي جرګه کې د کابل استازې فاطمې نظري او د بدخشان استازي عبدالقدیر صیاد ترمنځ شخړه وشوه او صیادیې د اوبو پر بوتل وویشت. کارپوهان وایي، چې دولسي جرګې داستازي پرونې ناندرۍ تر ډېره حده، په هېواد کې د اصلي سیاسي لوبغاړو له چپ و راست کېدو څخه سرچینه اخلي او دولس په کور کې ننداره ابنیودل کېږي.

ولسمشر جرګې ته د وړېږندو په موخه د ۱۷ تنو لست د ټاکنو کمېسیون ته ورکړی

دیو بل خبر له مخې، ولسمشر حامد کرزي د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو ۱۷ معترض کاندیدان وړېږندلي، تر څو یې یادې جرګې ته معرفي کړي. دیوې باوري سرچینې د معلوماتو له مخې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یادو ۱۷ تنو لست په پټه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي دفتر ته لېږلی، تر څو یې په اړه نظر واخلي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، په یادو ۱۷ تنو کې له زابل څخه حمیدالله توخی او محمد اسماعیل زابلی، له سمنګانو څخه احمدخان سمنګاني، له هرات څخه عزیز احمد نادم، احمدوحید طاهري، رحیمه جامي او نثاراحمد فیضي غوریاني، له کندهار څخه نیازمحمد امیر لالی، حشمت الله خلیل کرزی، له هلمند څخه حاجي معلم میرولي، له میدان وردګو څخه وحیدالله کلیمزی، له پکتیکا څخه محمد رحیم کټوازی او محمد خان سلیمانخېل، له فاریاب څخه ګل محمد پهلوان، له بدخشان څخه څار نوال عبدالروف او له بغلان څخه عاشق الله وفا او محمد نسیم مدبر شامل دي. د دغه سرچینې د معلوماتو پر اساس، دغه ۱۷ تنه هغه کسان دي، چې د تېر کال د نومبر په میاشت کې د ټاکنیزو شکایتونو او ېدو کمېسیون د ټاکنو د لومړنیو پایلو له مخې د بریالیو کاندیدانو له لیست څخه ایستلي وو. د پژواک خبري اژانس د خپرو شویو خبرونو له مخې، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د نومبر په میاشت کې له فراه څخه عبدالولي حمیدي او مسعود بختور، له زابل څخه حاجي عبدالله خان شهرزاد هوتک، له پروان څخه حاجي فاضل سیدخېلي، له هرات څخه سید محمد شفیق او محمد معروف فضلي نومونه هم د لومړنیو پایلو په بنسټ د کامیابو کاندیدانو له لست څخه ایستلي وو. دا په داسې حال کې ده، چې د ولسي جرګې د تېر کال په ټاکنو کې د درغلیو د څېړلو په موخه ځانګړې محکمې هم د چنګاښ په دویمه ۶۲ معترض کاندیدان د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته ورمعرفي کړي، تر څو له دې لارې ولسي جرګې ته ور وپېژندل شي. له دغو ۶۲ تنو څخه په یاد ۱۷ کسیز لست کې د نثاراحمد غوریاني، رحیمي جامي، احمد وحید طاهري، نیاز محمد امیر لالی، حمید الله توخي، حاجي اسماعیل زابلي، محمد خان سلېمانخېل، احمد خان سمنګاني، څار نوال عبدالرووف، معلم میرولي، وحید الله کلیمزی، محمد پهلوان، عاشق الله وفا او محمد نسیم مدبر، نومونه هم شامل دي. د عزیز احمد نادم، حشمت الله خلیل کرزي او محمد رحیم کټوازي نومونه په یاد ۱۷ کسیز لیست کې شته، خو د محکمې له خوا د ټاکنو کمېسیون ته د ورمعرفي شویو کاندیدانو په لست کې یې نومونه نشته. په کابل کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي د دفتر ویانده نیلاب مبارز وایي، چې دوی د یاد شوي ۱۷ کسیز لست په اړه معلومات نه لري. د دغه ۱۷ کسیز لست په اړه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د مطبوعاتي دفتر کارکوونکې مرضیې له څه ویلو ډډه وکړه او ویې وویل، چې د ټاکنو د پایلو په اړه دغه کمېسیون پر خپل دریځ ولاړ دی. یاد کمېسیون ویلي، چې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان او د ملي شورا تر پرانیستې وروسته هېڅ ارګان د ټاکنو په پایلو کې د بدلون راوستو واک نه لري. جمهوري ریاست تر اوسه د یاد ۱۷ کسیز لست په اړه څه نه دي ویلي. تر دغه مهاله دا نه ده معلومه، چې یاد ۱۷ کسان به څه ډول ولسي جرګې ته لاره پیدا کوي او پر ځای به یې کوم وکیلان او د کوم قانون له مخې په جرګه کې غړیتوب له لاسه ورکوي.

افغانستان د پردیو استخباراتي جګړو ډګر

لیکوال: څیړندوی احمدشاه کتوازی

د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان کورنیو اختلافاتو او کمزورو ټولو د باندنیو هېوادونو ځارګرو کړیو ته په بیلا بیلو سیاسي لوبو کې دا موکه په لاس ورکړې، چې دا سیمه د خپلو موخو قرباني او تر خپلې ولکې لاندې یې راولي، خود بهرنیانو د دغه ډول بریاوو عمر ډېر کم او لنډ لیدل شوی، چې په پایله کې یې افغانستان ډېر ته د ګډوډیو او بې نظمیو په لور روان شوی.

د نړۍ د زبرځواکونو غلطو او ظالمانه سیاستونو او د تاریخ په اوږدو کې په ملي کچه د افغانستان په رهبري کې د عزم او قوي هوډ نشتوالی، د دې سبب شو څو افغانستان د توندلارو او وسلوالو ډلو په میدان بدل شي.

افغان ولس د خپل عمر زیاته برخه په همدغو جګړو کې تېره کړې، د سولې فکر ته دوی یا خو د خپلو رهبرانو له لاسه او یا هم د پردیو له لاسه نه دي پریښودل شوي. په ملي کچه دا هم یو واقعیت دی، چې ولس خپل مسؤلیت په صحیح توګه نه دی تر سره کړی مګر په واقعیت کې دا د ولسونو مشرتابه او رهبران وي، چې د ولس له استعدادونو او ظرفیتونو څخه په صحیح ډول استفاده کوي او هغه د هېواد د پرمختګ لپاره کاروي تر څو هېواد او ولس دواړه د رونټیا، پرمختګ او نویوابتکاراتو پر لور رهبري کړي. له بده مرغه د مشرتابه ټیم ترمنځ د اتفاق او اتحاد د نشتوالي او له بیلابیلو هوادونو سره د دوی د تړاو له املې ولس او هېواد دواړه وروسته پاتې او داور په لمبو کې ګېر پاتې شوي.

په داسې حال کې، چې افغانستان لا تراوسه په یوه کړکیچن او د جنګ په حالت کې دی. په لسګونو بیلابیلې استخباراتي کړۍ په دې هېواد کې د خپلو شومو اهدافو تر لاسه کولو په هڅه کې دي او په دې هېواد کې تخریبي فعالیتونه کوي. سربیره پر دې ځینې کورنۍ ملي ضد کړۍ، چې په افغانستان کې شتون لري، د ۲۰۰۱ کال راهېسې د اقتصادي پیاوړتیا تر څنګ یې له بهرنیو هوادونو، استخباراتي اژانسونو او داسې کړیو سره لاس یو کړی، چې هیڅ کله هم هغه د افغانستان په ګټه نه وا و نه دی بلکې یو تخریبي سیاست او په دې هېواد کې د تخریب، نفاق او داور لمبو ته نوره هم لمن وهي.

د دوی تر منځ یو داسې سمبولیک تړاو رامنځ ته شوی دی، چې نه شي کولای یو له بل نه بیل شي، او تر څنګ یې دوی د ځینو رسنیو له خوا، چې د استخباراتي کړیو په مرسته او اشارو فعالیتونه کوي، افغان ولس ته داتلانو په توګه معرفي کیږي. په داسې یو حالت کې افغانانو ته څه په کار دي تر څو خپلې ملي ګټې خوندي کړي.

افغانستان، چې یو پیاوړی او مهم جیوستراتیژیک موقعیت لري، ولې هر وخت د دې پر ځای، چې له خپل موقعیت نه په مثبت ډول استفاده وکړي، تل د هغه قرباني پاتې شوی دی.

افغانستان د خپل مهم، جغرافیوي او جیوستراتیژیک موقعیت له مخې، چې د سویلي آسیا، منځنۍ آسیا او منځنۍ ختیځ تر منځ نښلوونکې بڼه لري، نه یوازې د سیمې هېوادونو ته بلکې د نړۍ لپاره هم خورا ارزښت لري.

له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې تل افغانستان د خپل جیوستراتیژیک موقعیت له املې قرباني شوی دی. له پخوا زمانو راهیسې د نړۍ زبرځواکونه په دې ګروه وو، چې افغانستان د نړۍ مرکز دی او دغه نظر تر ننه پورې هم خپل اهمیت له لاسه نه دی ورکړی.

ځکه خو د وخت هر یوه زبرځواک په دې سیمه کې ځان ازمایلی او د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره یې دلته د یوې مودې لپاره د جګړې ناکام ډګر تود ساتلی دی.

له پیړیو راهیسې افغانان او د دوی هېواد د فارسیانو، مغلو، انګرېزانو، روسانو او په دې وروستیو کې د پاکستان د جاه طلبیو او سیاسي ځواک د لوبو په ډګر بدل شوی دی، چې ورسره د سیمې سوکالي او ټیکاو متزلزل او له ستر ګوابښ سره مخ شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې څو څو ځله د وخت بوالهوسو زبرځواکونو د لویو امپراتوریو د جوړولو له خیالونو او د خپلو سوداګریزو موخو د تر لاسه کولو لپاره د اسیمه ځپلې او تړې نورو سیمو ته تېر شوي دي.

د افغانستان د جیوستراتیژیک او جیوپولیټیک موقعیت ارزښت ته په کتو سره د سیمې مشهور مسلمان شاعر او فیلسوف علامه اقبال لاهوري افغانستان د آسیا د زړه په توګه پیژنې او "لارډ کرزن، چې د شلمې پیړۍ په پیل کې د برتانیې له اړخه د هند وایسرای ټاکل شوی وه، افغانستان د آسیا (کوکپټ) (داسې ځای، چې خورا ډېر جنګونه په کې شوي دي) راپېژني. د افغانستان غرونو او دښتو د نړۍ تاوده او سړه جنګونه وګالل، چې د دغو جګړو بدې اغېزې نه یوازې په سیمه بلکې په ټوله نړۍ کې ولیدل شوې. باندنیو نیواکګرو او د وخت زبرځواکونو تل هڅه کړې، چې د دې سیمې با ارزښته ستراتېژیک موقعیت تر ګاونډیانو پلیتو منګولوته به ولوېږي، چې ورسره به یو ځل بیا افغانستان ښایي د اسلامپالو سخت دریزو او ترهګرو پر ځالې بدل شي او د سیمې او نړۍ تېکاوه هم ورسره له ناوړه ګوابښ سره مخامخ شي.

افغانان باید "خپله مرسته په خپله" حقیقت درک کړي:

دوی باید د سیاسي ځواک تریخ حقیقت ته پاملرنه وکړي او یاد حقیقت و پیژني، چې یوازې په خپل زیار او مرستې سره کولای شي، څو په هېواد کې سوله او امنیت راولي، ځکه، چې د بهرنیانو له لوري د سولې راتګ د هغوی په موخو پورې تړلی وي، کله، چې هغوی خپلې موخې تر لاسه کړي، بیا داورته د اندېښنې وړ خبره نه وي، چې افغانان په څه ډول یو حالت کې دي. د یوه هېواد لپاره امنیت تر هر څه مهم وي، ځکه، چې امنیت د هېواد د ملاتیر حیثیت لري اقتصاد، وده، پرمختګ، د مدني بنسټونو جوړونه او نورې پرمختیاوې د امنیت په شتون کې نغښتې وي، نو له همدې املې یو واقعیبین (ریېلیسټ) باید په لومړي پړاو کې په هېواد کې د ننه خپل واک او ځواک منظم او بیا په نړیواله کچه ځواک تر لاسه کړي.

ننۍ نړۍ هو منظم سیستم نه لري، له بې نظمۍ او سیاسي ګډوډیو سره مخامخ ده. په دغو ګډوډیو کې هیوادونه یوله بل سره په سیالۍ کې دي، څو وکړای شي د نورو په پرتله د پرځواک تر لاسه کړي، هېوادونه هڅه کوي، چې د ثبات، امنیت، اقتصاد، بازار موندنې، نفوذ او په داسې نورو برخو کې تر نورو خپله ونډه د پېره کړي. نو په دغسې ګډوډ پېښن کې د یوه هېواد تر ټولو مهم او لومړنی مسوولیت د خپلو ګړو د ژوند ساتنه او د هغوی د امنیت تامینول دي.

نو له دې نه دا سبق اخیستل کېږي، چې د ځواک خاوندان یا خپلواک هېوادونه باید دې ته چمتو و اوسي، چې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره دوی له خپلو کړیو ژمنو څخه تیر او خپلو ګټو ته تر هر څه لومړیتوب ورکړي، وړاندې له هغې، چې ګاونډی یا کوم بل هېواد پرې یرغل وکړي او یا د برید له ګوابښ سره مخامخ شي دوی یې باید مخکې له مخکې غم خوړلی وي او برید کوونکی هېواد تر خپل کنټرول لاندې راولي، د دې تر څنګ د نورو هېوادونو د هغو پالیسیو یا کړنلارو مخنیوی هم باید وکړي، چې د دوی د هېواد یا ولس د ګټو پر خلاف وي.

د بقا یا ژوندي پاتې کیدو اړتیا ته په پام سره د هېوادونو واکمن چارواکي باید له دوديزو افکارو او اخلاقیاتو نه ځانونه لرې وساتي، اخلاق او دودونه باید د دوی د پرېکړو خندونه ګرځي، ملي ګټو ته باید تر هر څه زیاته پاملرنه وشي، که د رواجونو او یا داخلاقو له چوکاټه د باندې هم وي. په نړیوال سیاست کې د کورنۍ سیاست برعکس بل ډول سیاسي او اخلاقي اصولو ته اړتیا پیدا کیږي.

په هر حالت کې د ملي ګټو په پام کې نیولو سره باید د هېواد ساتنه وشي (که څه هم دغه چاره د وګړو د ژوند د لاسه ورکولو او قربانیو په بیه تمامه شي). د نړیوال سیاست د رښتیني او حقیقي فطرت پېژندلو لپاره د هېوادونو د واکمنو پر اوږو یو درونده مسوولیت پروت وي.

د هینري کسینجر په اند د ولس د ژوند ساتنه د دوی لومړنی او وروستنی مسوولیت دی، چې په اړه یې په هیڅ صورت هم معامله نه شي کیدای او دا باید له خطر سره مخامخ نه شي.

نور بیا

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده بیستم: ۳- با انجام این تحقیقات، بنابربند ۲ این ماده، کمیته از دولت عضو مربوط خواهد خواست که در این موارد همکاری نماید، با توجه به تحقیقات انجام شده و توافق با دولت عضو ذیربط، بازدید(مسافرت) از قلمرو آن دولت به عمل خواهد آمد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادہ ورځپاڼه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۵ ۵۹۶۲ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com